احمد شاه وحدت
Ahmad Shah WAHDAT
Mobile: 0700252598
PROPERTY OF ACKU

دغه رنګ مو تاسې غوره امت ګرځولي یاست چې پر خلکو ګواهان اوسئ

اونیزه
شهادت
د حزب اسلامي افغانستان نشراتي ارګان

درس قرآن

او زموږ په پیدایښت کې داسې امت هم شته چې د حق په لور ښوونه کوي او تل د حق په تله پرېکړې کوي او کومو کسانو چې زموږ آیتونه دروغ [...] موږ به یې پوري په پوري داسې ونیسو چې هغوی به پوه هم نه شي. اوس هغوی ته وخت ورکوم زما تدبیر خورا پیاوړی دی.
(سورة اعراف: ۱۸۱ - ۱۸۳)

درس حدیث

از انس رضی الله عنه روایت است که:
رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمود: کسی که دوست بدارد اینکه روزی اش فراخ گردیده و عمرش طولانی گردد، باید صلهء رحمش (پیوستگی با نزدیکان) را پیوسته بدارد. (متفق علیه)

شهادت خلورم کال، ۹ مه ګڼه، پرله پسې ۱۲۰ مه ګڼه چهارشنبه ۱۳۹۱ هـ ل د غبرګولی ۱۷ مه د۱۴۳۳ هـ ق د رجب المرجب ۱۲ مه د۲۰۱۲ م د جون ۶ مه

حزب اسلامي افغانستان د غبرګولی د میاشتې اتمه او څوارلسمه ونمانځله

د تېرې یکشنبې پر ماسپښین دو بجې د غبرګولی په څوارلسمه نېټه د حزب اسلامي په مرکزي دفتر کې دهغو شهیدانو ورځ ونمانځل شوه چې په ۱۳۵۸ کال په پلچرخي زندان کې د افغانستان د حزب اسلامي بندیانو د کمونستي رژیم د افسرانو په خلاف ستر پاڅون وکړ او له پنځه ورځې پرله پسې وسله والې جګړې وروسته د شهادت جامونه یې وڅکل او خپل راتلونکی نسل لپاره د تقلید وړ د بهادری او استقامت مثال یې پرېښود.

د غونډې آغاز د ځوانانو ټولنې د اجرائیه شورا غړی او د دعوت پوهنځي د شرعیاتو څانګې محصل قاري صاحب اسدالله شهاب د قرآن کریم د څو مبارکو آیتونو په تلاوت سره وشوه.

افتتاحیه وینا د حزب اسلامي د دارالانشاء رئیس تورن غلام سخي وکړه، نوموړي د پلچرخي د پاڅون په څرنګوالي، شهیدانو د تعارف او دهغوی د شهامت مېړانې په اړه بشپړه معلومات وړاندې کړل، او د افغانستان له مجاهد او قهرمان ولس نه یې غوښتنه وکړه چې د خپلو دغو باتورو اسلافو په نخچ قدم ولاړ شي او د خپل دین او هېواد د ساتنې لپاره دهغوی په څېر د جرئت او بهادری لاره خپله کړي.

وروسته د هېواد تکړه لیکوال او د حزب اسلامي ویاند ښاغلی سید فضل مولا لتون خپله په زړه پورې او جذابه وینا وړاندې کړه، نوموړي د غوبې څوارلسمه د تاریخ یو بې مثاله ورځ وبلله او د شهیدانو روح ته یې د عقیدت ګلونه وړاندې کړل.

نوموړي وویل: د ظاهرشاه د اقتدار پر مهال په افغانستان د کمونیزم لپاره کار کېده ځوانانو دهغوی ددغه الحادي عقیدې پر وړاندې د بند ترلو لپاره د اسلامي نهضت ډېره کښښوده او د کمونیزم د پوچې عقیدې په خلاف یې نه سترې کېدونکې هلې ځلې پیل کړې، کله چې په ۱۳۵۲ کال سردار داود خان د یو کودتا له لارې د اقتدار پر ګدې کښاست نو د

پاتې ۳ مخ

مردم پاکستان نمی خواهند اکمالات ناتو از طریق کشور شان صورت گیرد

کابل، رسانه ها:
خانم حنا ربانی کهر وزیر خارجهء پاکستان در صحبت با نشریهء فارن پالیسی در مورد مناسبات اسلام آباد با واشنگتن گفته است، صرف نباید گفته شود که ما این روابط را می خواهیم، بلکه باید گفت، ما آن نیاز داریم.
بعد از آنکه سال گذشته در اثر حملهء یک هلیکوپتر امریکایی، ۲۴ نظامی پاکستانی در امتداد سرحدات با افغانستان در منطقهء مهمند ایجنسی کشته شدند و اسلام آباد راه ترازیتی مواد اکمالاتی نیرو های ناتو را در قلمرو آن کشور مسدود ساخت، روابط

پاکستان و امریکا با تنش های مواجه شده است.

بقیه در صفحه ۴

ناټو:

له افغانستانه مو د وتو لار ومونده

کابل، رسنۍ:
ناټو سازمان وايي چې له افغانستانه د وسایلو او سرتېرو د ایستلو لپاره یې د وتلو لاره پیدا کړې او د منځنۍ اسیا له دریو هېوادونو سره یې د دې اړه هوکړې ته رسېدلي دي.
دغه څرګندونې د ناټو سازمان عمومي سرمنشي انډرس فوغ راسموسن د بلجیم په بروکسل ښار کې د ناټو په مرکزي دفتر کې یوې خبري غونډې ته کړې دي.
هغه زیاته کړه، چې له افغانستانه د ناټو سرتېرو د وتلو پر مهال دریو منځني اسیایي هېوادونو، ازبکستان، قرغزستان او قزاقستان

چمتووالی ښودلی، چې له افغانستان څخه د وتلو پر مهال به ناټو ته لاره ورکوي.

پاتې ۴ مخ

امریکا پاکستان ته د ۷۵ فیصدو مرستو له ورکولو سره موافقه کړې

کابل، رسانه ها:
د پاکستان ډان ورځپاڼه د ډیپلوماتیکو سرچینو له قوله وايي چې د امریکا متحدو ایالتونو له تروریزم سره د مبارزې لپاره پاکستان ته د یوملیارد او اتلس ملیون ډالرو له ورکولو سره موافقه کړې ده. دا د هغو پیسو په سلو کې ۷۵ دي چې امریکا به پاکستان ته ورکولې خو په وروستیو کې یې پرې بندې کړې وې.
دا پیسې د ایتلاف د ملاتړ له صندوقه ورکول کېږي چې د ترهګرۍ پرضد له جګړې سره د پاکستان په شمول د امریکا متحدانو ته ځانګړي شوې دي.

پاتې ۴ مخ

هند دې له پاکستان سره د خپلې دښمنۍ پولې تر افغانستانه، نه غځوي

محمد خلیل دویم مخ

منزلت دولت در اسلام

دوکتور عبدالکریم زیدان څلورم مخ

روسیه:

خروج ناتو از افغانستان به کشورهای منطقه مشکل ایجاد خواهد کرد

کابل، رسانه ها:
وزیر امورخارجه روسیه، اظهار نگرانی نمود که با خروج نیروهای ناتو از افغانستان، کشورهای منطقه دچار مشکل خواهند شد.
سرگی لاوروف وزیر امور خارجه روسیه، این اظهارات را قبل از نشست شانگهای در مصاحبه با یک رسانهء چینی بیان نموده است.
در نظر است که کنفرانس دو روزهٔ سازمان شانگهای به شمول افغانستان، فردا در بیجنگ پایتخت چین آغاز گردد.
وزیر امور خارجهء روسیه، علاوه کرده است که در این نشست سازمان شانگهای؛ روی امنیت منطقه، مبارزه علیه تروریزم، موادمخدر و انکشاف اقتصادی، تصامیم مهمی اتخاذ خواهد شد.
وی گفت امکان دارد که تعداد کشورهای عضو این سازمان افزایش یابد و به زودی، به پاکستان و هندوستان نیز در آن عضویت داده شود.
لاوروف گفت که کشورهای منطقه، باید برای امنیت وثبات منطقه مشترکاً تلاش نمایند.
موصوف، در پاسخ به یک سوال در مورد افغانستان گفت که کشورهای منطقه، بعد از خروج ناتو از این کشور، با مشکلات زیادی مواجه خواهد شد؛ اما او در مورد این مشکلات معلومات ارائه نکرد.
وی علاوه نمود که کشورهای عضو سازمان شانگهای، از مدت زیادی در بخشهای مختلف با افغانستان کمک میکنند.
لاوروف گفت که کمکهای سازمان شانگهای در عرصهء مبارزه با تروریزم و موادمخدر، میتواند نقش مهمی در حل مشکلات افغانستان بازی کند.

د مهاجرینو ستونزې به څوک هواروي؟!

عبیدالله صافی

د افغانستان څو ملیون کډوال د پاکستان او ایران په هېوادو کې د مهاجرت او بې کورۍ سختې ورځې پر وړاندې لري، ډېرې افغانان د نورو ډول ډول کړاوونو ترڅنګ هره ورځ د پولیسو له خوا ځورونه او په مختلفو جرمونو کې د لاس لرلو پر تور تربنه بندې اخستنه او نورې ستغې سپورې هغه څه دي چې مهاجرین تربنه تر پوزې راغلي دي، هغوی خپل غږ د رسنیو له لارې د ملګرو ملتو اداری په شمول ګردی نړی غوږونو ته رسوي او رسنۍ هم په ژوندۍ بڼه د هغوی غږ پخپلو رسنیو کې منعکس کوي خو ډېر افسوس چې د مهاجرینو په کړاوونو کې د کمې پر ځای لازیات والې راځي.

دلته د افغانستان رسنۍ هم د کډوالو د کړاوونو په اړه ډېر څه لیکي او ډېر څه وايي، کوربه هېوادونه پخپلو په دغو کړنو ملامتوي او دهغوی دغه کړنې اسلامي او بین المللي اصولو مخالف ګڼي چې واقعاً همداسې ده، خو پخپله افغان چارواکي د افغان مهاجرینو له دې بد حالت نه د ویستلو لپاره په داسې یوه طرحه او تشکیلاتو کار نه کوي چې دهغه په عملي کېدو مهاجرین تل لپاره د مهاجرت له سختو شپو ورځو نه خلاصون ترلاسه، او پخپل پلرني ټاټوبي کې میشت شي.

افغان مهاجرین په نورو هېوادو کې، نه له مستۍ اوسېږي او نه یې هم د ذلت او بې عزتۍ ژوند خوښ دی، بلکې د مجبوریت دلاسه په نورو هېوادو کې ژوند تېرولو ته اړ شوي دي، په دغو کډوالو کې ډېری هغه دي چې په هېواد کې د اوسېدو لپاره نه کور لري او نه هم د یوې جونګړې جوړولو لپاره یوه بسوه زمکه، چې خپل هېواد ته له راستنېدو وروسته خپله حیا پکې خوندي کړي.

څو کاله مخکې ماته په ارباب روډ کې د دوکان مخې ته ولاړې دهغې کابلۍ سپین سرې خور کې له افسوسه ډکه هغه خبره اوس هم په یاد ده چې ویل یې: کاش ما هم په کابل کې خپل کور یا هم څو بسوې زمکه درلودای چې د نورو مهاجرینو په څېر خپل ګران هېواد ته تللی وای...

پاتې دریم مخ

د لوی او مهربان خدای په سپېڅلي نامه

حماسهٔ خونین ۸ و ۱۴ جوزا در زندان پلچرخی

تاریخ مبارزات اسلامی و آزادیخواهانهء ملت مسلمان افغانستان، سراسر آگنده از قیام و حماسه است ، همین قیام های حماسی در شکلدهی و تبارز آرمان های فکری و عقیدتی افغان ها نقش اساسی داشته و از ممیزات و خصایل برجسته این ملت غیور به شمار می روند.

قیام های تاریخی پیشتازان نهضت اسلامی در زمان حکومت استبدادی داودخان، سنگ بنای جهاد مسلحانه علیه جور و کفر را تشکیل می دهد. هر چند آن قیام ها در مرکز و چند ولایت کشور ظاهراً سرکوب گردید، ولی پیام رسای آن قیام ها، الهام بخش رستاخیز عظیم اسلامی علیه حاکمیت رژیم کودتایی ۷ ثور گردید.

وقوع کودتای ۷ ثور بوسیله تنی چند از افسران خلقی در قطعات نظامی، آغاز بدبختی و بحران بزرگ در کشور گردید، کودتاچیان جوان و بی تجربه با الهام از طرز تفکر وارداتی و باطل کمونیستی در صدد برهم زدن کیان معنوی و مادی ملت مسلمان افغان گردیدند و مصمم بودند که در اندک مدتی پایه های جامعهٔ بی طبقه سوسیالیستی را به تأسی از نظام اتحاد شوروی وقت پی ریزی نمایند و اعلان کردند که در راه رسیدن به این هدف، هر نیروی مخالفی را تار و مار خواهند کرد. متعهدین نهضت اسلامی افغانستان با شناخت از ماهیت فکری کودتاچیان، شور و تحرک مبارزاتی خود شان را قویتر از دورهٔ داود خان بکار گرفتند و در هر گوشه و کنار کشور هسته های قیام و مقاومت علیه رژیم تره کی بوجود آمد. گسترش روز افزون جبهات مجاهدین تحت قیادت نهضت اسلامی علیه رژیم خلقی، کینهء دیرینه کمونیست ها را علیه بنیان گذاران و پیشتازان نهضت اسلامی قوت بخشید و رژیم در صدد آن شد تا آن مبارزین پاک طینت را به شکل دسته جمعی مانند سایر هموطنان متدین ما به شهادت برسانند . زندانیان نهضت اسلامی می دانستند که نفرت و عناد گردانندگان رژیم ملحد تره کی در برابر ایشان، شدیدتر از اسلام ستیزی داود است، بناءً آنها هر روز برای شهادت آمادگی می گرفتند.

در نیمه های شب ۸ - ۹ جوزا ایادی رژیم تره کی در زندان پلچرخی با قرائت نام های ۱۱۷ تن از زندانیان مسلمان، آنها را گروپ گروپ بنام تحقیق به دفتر قوماندانی زندان فراخواند که گویا پس از پرسان و تحقیق مختصر از حبس رها می شوند. چون زندانیان به این نیرنگ های مزورانه و خصمانهء کمونیست ها از قبل آگاه بودند، می دانستند که تحقیق مجدد در نیمهء شب از ۱۱۷ نفر تصمیمی جز به شهادت رساندن دسته جمعی آنان، چیزی دیگری نیست؛ لهذا همگی خود را آمادهٔ قیام و قربانی کردند تا بدینوسیله درس بزرگ و پیام رسایی به همسنگران و کافهء ملت مسلمان داده باشند . با رفتن اولین گروپ برادران به دفتر قوماندان زندان، فرمان قیام علیه ایادی رژیم در داخل زندان توسط فرمانده معرکه ۸ جوزا (عبدالهادی پدر) با گفتن نعرهٔ تکبیر اعلان گردید و همزمان با این اعلان با طنین صدها نعره های دیگر تکبیر توسط زندانیان استقبال گردید و ۱۱۷ تن زندانی (که پنج نفر آنها قبلاً بنام رهبران نهضت از زندان خارج و به شهادت رسیده بودند) با لشکریان تا دندان مسلح رژیم خلقی درگیر شدند و این معرکه در میان موجی از نعره های تکبیر و شلیک گلوله های سلاحهای سبک و سنگین تا حوالی صبح ادامه یافت و حوالی ۴ صبح با شهید شدن آخرین زندانی از جملهء ۱۱۷ تن، همهء این قهرمانان جام شهادت نوشیدند و در این میان تعداد زیادی از افسران و سربازان رژیم نیز روانه جهنم گردیدند.

یکهفته بعدتر نظامیان رژیم در شب ۱۴ - ۱۵ جوزا گروپ ۵۴ نفری باقیمانده پیشتازان نهضت را با داشتن آمادگی قبلی که هر یک از آنها با میله های کلاشینکوف سربازان از چهار جهت ترصد می شد، غرض تحقیق مجدد (کشتار دسته جمعی) فرا خواندند. در این معرکه که کوچکترین چانس حرکت و قیام برای هیچ زندانی ای موجود نبود ، مجاهد قهرمان سید اکبر شهید با مهارت خاصی با کارد آبدار مخفی کرده اش، حین ادای احترام به میر غضب زندان (عبدالله بی خدا) وی را زیر ضربه های پیهم قرار داده و در همان دم نقش بر زمینش ساخت و همزمان با آن عساکر دست بماشه، با شلیک گلوله های آتشین آن عزیزان غل و زنجیر کشیده را بطور دسته جمعی مانند حادثه شب ۸ جوزا به شهادت رساندند.

هر چند قیام های ۸ و ۱۴ جوزا ظاهراً به شکست مواجه شد و قیام کنندگان بطور دسته جمعی همه در داخل زندان شهید شدند، ولی پیام آن قیام چنان سهمگین و رسا بود که در فردای آن به تأسی از آن شجاعت بی مثال و قربانی بی نظیر زندانیان نهضت، سلسله قیام و جهاد سرتاسری ملت مسلمان آغاز گردید و مجاهدین پس از ۱۴ سال جهاد و مبارزه، نه تنها رژیم مزدور و کودتایی ۷ ثور را سرنگون کردند، بلکه با شکست دادن قشون سرخ ، امپراطوری کمونیزم را که بر نیمی از جهان حکومت داشت و از مهابت آن، خواب از چشمان غرب گریخته بود، منقرض نمودند.

قیام های ۸ و ۱۴ جوزا از سه لحاظ درخور تأمل است و باید از جانب اولیای امور دولت و همرزمان آنها همه ساله هر چه با شکوهتر از سایر روزهای تاریخی و حماسی دیگر گرامی داشته شدند.

نخست اینکه این رادمردان مسلمانان یکمرتبه در چندین محاذ در برابر رژیم استبدادی داود خان قیام کردند که تعدادی از آنها در جریان معرکه شهید و تعداد دیگری زندانی شدند. آنها هنوز دورهٔ حبس شان را تمام نکرده بودند که کودتای ۷ ثور بوقوع پیوست و آن ها اسیر رژیم کودتایی ۷ ثور شدند. بار دوم آن ها در برابر رژیم الحادی تره کی قیام کردند و تا آخرین قطره خون و آخرین نفر در برابر دژخیمان رژیم رزمیدند، تا آنکه یکنفر هم از آن جمع زنده باقی نماند . سوم آنکه قهرمانان قیام های ۸ و ۱۴ جوزا در داخل زندان با دست و پای به غل و زنجیر کشیده قیام کردند که این ویژگی از امتیاز خاصی برخوردار است. پس با این سه برجستگی قیام برادران مسلمان نهضت در زندان پلچرخی در سال ۱۳۵۸ سزاوار هر نوع تقدیر و تحسین است و همه ساله این روز باید بطور شانداری گرامی داشته شود. غفلت و فراموش کردن این حماسه جاودان، پشت کردن به آرمان شهدا و انحراف از خط مقدس جهاد و مبارزه به شمار میرود و مرتکبین این عمل در دنیا و آخرت خوار و زبون خواهند شد.

هند دې له پاکستان سره د خپلې دښمنۍ پولې تر افغانستانه، نه غځوي

محمد خلیل

په دې سیمه کې پاکستان او هندوستان داسې دوه هېوادونه دي چې په افغانستان کې د خپلمنځیو رقابتونو له کبله افغانان یې له زیاتو کړاوونو سره لاس او ګریوان کړي دي. نه هندوستان د پاکستان او چین افغانستان ترمنځ تودې لا څه چې ان نارمل اړیکې زغملی شي او نه هم پاکستان د هندوستان او افغانستان ترمنځ دوستانه اړیکو زغملو ته تیار دی، په داسې حال کې چې داسې هېڅکله نشي کېدلې، هم پاکستان او افغانستان پخپلو کې د اصولو مطابق د دوستانه توده اړیکو ته اړتیا لري او هم افغانستان او هندوستان پخپلو کې د بین المللي اصولو مطابق له یو بل سره د دوستانه اړیکو درلودلو او پاللو ته ضرورت لري، ځکه چې له داسې کولو پرته بله چاره پرمخ نه لري، که بالفرض پخپلو کې له یو بل سره له دوستانه اړیکو څخه لاس په سر شي او پخپلو کې له یو بل سره د ژوند د ګټو اړتیاو له راکړې ورکړې او تجارت څخه لاس واخلي نو په لوی لاس به یې ستر تاوان کړی وي چې د لیونتوب پرته ورته بل څه نه شو ویلې، نو ځکه له دې پرته بله چاره نشته چې درې واړه هېوادونه یو بل وزغمي او د یو د بل د روا ګټو د خوندیتوب خیال وساتي.

افغانان چې د تېرو ۳۲ کلو راهیسې د جنګ جګړې په میچن کې دل شوي او اقتصادي حالت یې د صفر تر کچې رسیدلې او پخپل هېواد کې د پراستامول ګولی او د ګنډلو د ستن فابریکه قدرې هم نه لري څنګه کولې شي له خپلو ګاونډیو او نیمه ګاونډیو هېوادو څخه بې نیازه شي، په ځانګړي ډول له خپلو هغو ګاونډیانو څخه د دوستۍ او ګاونډیتوب لاسونه واخلي چې تېرو دریو لسیزو راهیسې د افغان مهاجرینو میلمه پالنه کړې او اوس هم لکونو افغانان په هغو هېوادو کې هستوګن دي.

افغانان د هندوستان په شمول د نړۍ د هر هېواد بشر دوستانه مرستو ته د قدر په سترګو ګوري او شکریه یې ادا کوي خو د چا د داسې مشروطو مرستو له منلو څخه په کلکه ډډه کوي چې له ګاونډیانو سره د دښمنۍ په بیه تمامېږي او له هغوی سره یې د دښمنۍ په پوله ودروي.

افغانان څومره چې له ګاونډیانو سره ښې او نیکې اړیکې غواړي همغومره له نورو هېوادو سره هم ښې اړیکې غواړي نه نورو هېوادو ته اجازه ورکوي چې د افغانستان خاوره د ګاونډیانو په خلاف استعماله کړي او نه هم ګاونډیانو ته اجازه ورکوي چې خپلو موخو ته د رسېدو لپاره د افغانستان خاوره په خپله ګټه استعماله کړي، خو که بیا هم کوم هېوادونه خپلې مرستې په دې مشروطوي چې افغانان دې زمونږ د مرستو په عوض کې له خپلو ګاونډیانو سره د دوستۍ او ښه ګاونډیتوب اړیکې وشلوي نو هغوی دې خپل دغه ارمان له ځان سره قبر ته یوسي ځکه چې دا له افغانانو سره د دوستۍ تر مقدس عنوان لاندې ناولې دښمني، او په خوږو کې هغه تراخه وژونکی زهر دي چې افغانانو ته یې ورکوي.

افغانان کله هم دا نه شي زغملی او نه هم جغرافیایی موقعیت ورته ددې اجازه ورکوي چې پخپل هېواد کې دې د هندوستان ګټو ته د پاکستان پر ګټو لومړیتوب ورکړي، هندوستان دې خپلې سینې ته جوښت او پاکستان دې لېرې کړي. له دې تاریخ حقیقت نه هېڅوک سترګې نه شي پټولې چې هندوستان او پاکستان پخپلو کې د کشمیر په سر اوږده دښمني لري او اوس هم د دواړو هېوادو لکونه پوځیان په سرحدونو کې د یو بل په خلاف د تیارسۍ په حالت کې دي، نه ښایي هندوستان د خپلې ددغې جګړې لمنه افغانستان ته وغځوي او دهغه انتقام په افغانستان کې تر ښنه واخلي.

د افغانستان وګړي پخپله په یو عالم کړاوونو کې راګیر دي ددې شیمه بالکل نه لري چې د نورو په جګړو کې رانښکیل شي، نه د هندوستان لپاره د قرباني ګډورې جوړېدلې شي او نه هم د بل کوم هېواد لپاره. اصلاً د پاکستان، هندوستان ، ایران او د سیمې نورو هېوادو ګټه په دې کې ده چې خپلې مرستې یواځې او یواځې په افغانستان کې د استحکام او امن د پیاوړتیا او د یو غښتلي مرکزي حکومت د قیام لپاره ځانګړې کړي نه د یوې مخصوصې ډلې ټپلې د اقتدار او پیاوړتیا لپاره، ځکه چې تر څو پورې په افغانستان کې د ټولو افغانانو په خوښه او عمومي انتخاباتو له لارې یو مرکزي غښتلې حکومت په پښو ونه درېږي نو نژادي او ډله ییز حکومتونه چې کله د یو هېواد او کله د بل هېواد په مالي او پوځي مرستو اقتدار ته رسېږي نو په افغانستان کې نه د خپل جنګ جګړو مخه نیولې شي او نه هم د بهرنیو لاسوهنو، او همدا کار د ټولې سیمې د هېوادو د ناآرامیو سبب ګرځي، که هندوستان او ددې په څېر نور هېوادونه غواړي چې افغانستان د سیمې په باثباتو هېوادو کې شامل شي او د نورو هېوادو د جنګ خوښوونکو په اډه بدله نه شي نو افغانان دې د خپلمنځیو جګړو او له خپلو ګاونډیانو سره دښمنیو ته نه راپاروي او خپلې مرستې دې د ډلو ټپلو پر ځای له مرکزي حکومت سره جاري وساتي.

حزب اسلامي افغانستان د غبرګولی ...

پاتې برخه ....
اسلامي نهضت د غړو سخت ازمېښت شروع شو، ددغه نهضت ډېر غړي يې ونيول او په زندانونو کې يې واچول چې بالاخر په ۱۳۵۴ کال کې د اسلامي نهضت ځوانانو د افغانستان په ګڼو ولايتو او ولسواليو کې لکه لغمان، ننګرهار، کابل، پنجشیر، پروان، پکتيا، پکتيکا او نورو کې وسله وال پاڅون وکړ چې ګڼ ورونه پکې شهيدان او ځينې نور به نورو زندانونو کې واچول شول. په ۱۳۵۷ کال د غويي په ۷ مه کمونستي کودتا وشوه او هغوی په پراخه پيمانه د مسلمانانو په وژلو او بندي کولو پيل وکړ چې بالاخر د جهاد او هجرت سلسله شروع شوه او د لوی الله په مرسته د مجاهدينو د بې دريغو قربانيو په نتيجه کې هم سرو يرغلګرو روسانو ماته وخوړه او هم دهغوی لاس پوڅو ګوډاګيانو.
ښاغلی لټون صاحب زياته کړه د افغانستان مسلمان او مېړنی ولس د مقدس جهاد په دوران کې بې دريغه قرباني ورکړې، د نړۍ

محکومو ولسونو زموږ له جهاد او قربانيو زده کړه وکړه او د خپلواکۍ او استقلال څښتنان شو، خو افغان مجاهد ولس د بهرنيو توطئو له امله خپلمنځي اتحاد ته پرښنبودل شو او د کمونيستي رژيم تر ړنګېدو وروسته پخپلو کې سره لاس او ګريوان شول، د مجاهدينو ځای طالبانو ونيو او کورنيو جنګونو همداسې دوام وکړ او دا دی اوس ګورو چې هېواد مو د ناټو د غړيو هېوادونو د نظامي قوتونو کړ په دې او هره ورځ له دردوونکو غميزو او ناخوالو شاهدان يو.
ښاغلي لټون د خپلو خبرو په اخر کې وويل ورونو ! زموږ د ستونزو د حل کيلي په خپلمنځي روغه جوړه کې نغښتې ده، که د نړۍ هر څومره ځواکونه مو هېواد ته راوستل شي، چې خپلمنځي روغه جوړه مو نه وي کړې، بيا به هم له ناارامی، ستونزو، غميزو او کړاوونو سره مخامخ يو.
تر لټون وروسته د حزب اسلامي افغانستان رئيس او د اقتصاد وزير جلالتماب عبدالهادي "ارغنديوال " د خپلې عالمانه او هر اړخيزې وينا په ترڅ کې له حمد او ثنا وروسته د غبرګولي د مياشتې اتمه او څوارلسمه په مفصل ډول تشريح کړه او دا ورځې يې د افغانستان د اسلامي نهضت په زرين تاريخ کې نه هېرېدونکې وګڼلې.
قدرمن او مجاهد ورور ارغنديوال وويل په دې ورځو کې کمونيست رژيم د نهضت د ورونو د وژنې پرېکړه کړې وه، او د همدغسې
وحشت او بربريت په فضا کې زموږ ستاسې مېړنيو ورونو يو داسې له مېړانې ډک او ځار ګام واخيست، چې له خدايه جل جلاله منکر کمونيستان يې ګوته پر غاښ کړل او د مقاومت يو داسې مينار يې د څرخي پله په جهنمي زندان کې پر خپلو وينو او هډونو هسک کړ چې د افغانستان د اسلامي نهضت په تاريخ کې يې د مېړانی او سرښندنې نه هېرېدونکې خاطرې پرېښودې.
د حزب اسلامي افغانستان رئيس او د اقتصاد وزير جلالت ماب ارغنديوال زياته کړه زموږ ددغو مېړنيو شهيدانو کارنامې به تل پاتې وي، هغوی خپل وار تېر کړ او د نهضت د ژوندي ساتلو او په ګران هېواد کې دهغوی د سپېڅليو آرمانونو د تحقق پور يې پر موږ او تاسې پاتې دی، ورونو او ځوانانو زه تاسې ته وايم دا نن چې په عربي نړۍ کې کوم خوځښت روان دی او د ننی عصر ستر ستر فرعونان يې رانسکور کړل او د همدغه عربي پسرلي د خوځښت مخکښان هم د اسلامي نهضت هماغه صابر او مېړني شخصيتونه دي چې له اتيا کاله ستونزو او مشکلاتو زغملو وروسته پر دې بريالی کېږي چې د وخت فرعونان راوه پرځوي.
له محترم ارغنديوال وروسته د حزب اسلامي د ځوانانو ټولنې رئيس ښاغلی ډاکتر سيف الدين ستيج ته تشريف راوړ او له حمد او ثنا وروسته يې وويل:
ډېر خوشاله يم چې نن د غبرګولی په څوارلسمه نېټه د هغو شهيدانو د يادونې او قدردانی په خاطر دلته راغونډ شوي يو چې خپل سرونه يې د دين او هېواد د ساتنې لپاره د پلچرخي په جهنمي زندان کې د الله پاک دربار ته نذرانه کړل، لوی الله دې دهغوی شهادتونه پخپل دربار کې قبول او د فردوس جنت دې ورته نصيب کړي.
ډاکتر صيب زياته کړه: د افغانستان د جهاد او د جوزا د اتمې او څوارلسمې نېټې د شهيدانو او مخلصو مجاهدينو ارمان به هله پوره شي چې د افغانستان ټول وګړي د الله په دين منګولې ولګوي او پخپلو کې يو بل ته د اتفاق او ورورګلوی لاسونه ورکړي، د الله تعالی د اسلام د سپېڅلی دين دښمنان خپل دښمنان او دوستان يې خپل دوستان وګڼي.
افغانستان چې اوس مهال په يو نازک حالت کې قرار لري داسې مخلص مسلمان نسل او ځوانانو ته ضرورت لري چې هغوی د اسلام او هېواد ګټو ته ژمن او ملي ګټو ته په شخصي ګټو لومړيتوب ورکوي.
ورونو ! افغانستان به هله پرمختګ وکړي چې په ديني، علمي، فرهنګي، سياسي، اجتماعي، امنيتي، اخلاقي، دعوتي، سازماني او قيادي چارو کې مسلکي او تخصصي کدرونه وروزل شي، او نوی نسل هم به مسلکي او تخصصي برخه کې د نوی تکنالوژي په رڼا کې په سوچه اسلامي روحيه وروزل شي تر څو خپل اسلامي عقيدې او خاورې ته وفادار پاتې شي او دهغوی د صادقانه هلو ځلو په نتيجه کې يو اسلامي پرمختللي او خپلواک افغانستان جوړ شي.
له محترم ډاکتر صيب نه وروسته د حزب اسلامي د فرهنګي څانګې مسوول او پیاوړي ليکوال ښاغلی سيد عمر اعزامي له حمد او ثنا وروسته د ۸ او ۱۴ جوزا د پاڅون ځانګړنو ته په ګوته کړې او ويې ويل:
لومړی دا چې دغو زندانيانو د داود خان د ظالمانه رژيم په خلاف پاڅون کړی و، دويمه دا چې د تره کي مرتد او ملحد رژيم پرخلاف هم قيام کړی و، درېيم دا چې هغوی په داسې حالت کې د پلچرخي په زندان کې پاڅون وکړ چې لاسونه او پښې يې ولچک او زولنې وې نو څکه ددوی دغه پاڅون د تقدير وړ دی، دولتي چارواکی او د شهيدانو وارثان بايد دهغوی دغه پاڅون هرګز له ياده ونه باسي او راتلونکی نسل په ذهنونو کې د استعمار او ظلم په خلاف د جهاد او مبارزې انګيزه پيدا کړي، که نه نو د جهاد د داعيانو مبارزه به ډېر ژر بې اثره او له منځه لاړه شي.
د اعزامي صيب له وينا وروسته د بادغيس

ولايت د ځوانانو ټولنې مسؤول سيد نادر حاتمي ستيج ته راغې او له جوش او ولې نه ډکه وينا وکړه.
نوموړی د شهيدانو روح ته له درود او سلام وړاندې کولو وروسته وويل چې زموږ ځوانان به د ژوند تر آخرنيو سلګيو د خپلو شهيدانو او قهرمانو مجاهدينو لاره تعقيبوي او تر هغه به خپلې هلې ځلې جاري ساتي تر څو چې په افغانستان کې د شهيدانو ارمانونه نه وي ترسره شوې.
نوموړی په بادغيس ولايت کې د حزب اسلامي د ځوانانو ټولنې ځينو ستونزو په هکله وويل:
څو کاله کېږي چې موږ له دفتري آسانتياو نه

محروم يو او خپل فعاليت د مسجد له کنج نه پرمخ وړو د مرکزي دفتر له محترمو مسؤولينو څخه هيله کوو چې له موږ سره خپله همکاري ونه سپموي تر څو خپل فعاليتونه ګړندي او د حزب اسلامي د ځوانانو د ټولنې غږ د ولايت ټولو سيمو ته ورسوو.
غونډه په څلور نيمو بجو د مولوی صاحب امان الله حبيب په دعا پای ته ورسېده. په ياده دې وي چې د دغې غونډې وياندوی چارې محترم ورور ملنګ هوتک پرمخ وړلې چې د حماسي او انقلابي اشعارو په وړاندې کولو سره به هال کې د ناستو حاضرينو ايماني ولوله زياتېدله او د الله اکبر د نارې په پورته کولو سره به روحونه تازه کېدل.

د مهاجرينو ستونزې به څوک هواروي؟!

(د لومړی مخ پاتې برخه)

...او د مهاجرت او در په دری له ژوند نه يې خلاصون ترلاسه کړی وای، لنډه دا چې د افغانستان هغه مهاجرين چې په ګاونډيو هېواد کې اوسېږي او هلته ډول ډول ستونزې ګالي له هغو نه د خلاصون لاره دا نه ده چې د افغانستان چارواکي، سياسي شنونکي، ليکوالان او مبصرين دې پر هغو هېوادو د نيکو له لارې د خپل مسؤوليت د ترسره کولو کوښښ وکړي بلکې د افغان چارواکو او سياسي شنونکو اسلامي او افغاني مسؤوليت دا دی چې دمهاجرينو دراستنولو لپاره په يوداسې عملي برنامه او منصوبه کار پيل کړي چې دمهاجرينو د راستنېدو لپاره لاره هواره شي.
د ملګرو ملتو اداره چې پاکستان او ايران ته د مهاجرينو د کمک په مقصد کومې پيسې ورکوي هغه دې په افغانستان کې دننه د راستنېدونکو مهاجرو ته ورکړي.
هغه کډوال ورونه چې واقعاً په خپل هېواد کې د اوسېدو کور نه، نه لري، يا يې لري خو د جوړولو توان ورسره نشته له هغوی سره دې د څو بسوو زمکو او نقدو پيسو مرسته وشي تر څو وتوانېږي ځانله د سر پټولو جونګړه جوړه او خپله حيا او عزت پکې خوندي کړي.
که څه هم د حکومت له خوا د کډوالو چارو د وزارت په نوم برحال وزارت شتون لري تر څو د راستنېدونکو کډوالو ستونزې ارزيابي او سملاسي مرسته ورسره وکړي مګر ډېر افسوس په دې وزارت کې دومره غټ اداري فساد او خيانت روان دی چې اووه اته کاله وړاندې راغليو ډېرو مهاجرينو ته تر ننه يوه نمره زمکه هم نه ده ورکول شوې ډېر راستانه شوي مهاجرين دفترونو ته له ډېر تګ راتګ نه په تنګ راغلي او د ستړيا او مايوسی له کبله غلې ناست دی د راغليو مهاجرينو د شکايتونو په استناد يو کډوال ته تر هغه د خوړو ځيزونه او د کوټو جوړولو لپاره تېر او دستک نه ورکول کېږي تر څو چې له نيم نه زياته برخه د موسسې مامورينو ته ورنکړي. په ځانګړی ډول هغه کډوال چې بې سواده او بې واسطې وي دهغه لاس ته خو هېڅ نه ورځي او برخه يې د نورو په جيبو کې ولوېږي.
که پخپله د افغانستان چارواکي دْ خپلو مهاجرو ورونو د راستنولو غم نه خوري او دلته په افغانستان کې چې خپل پلرنی تاټوبی يې دی او ددې د دفاع لپاره يې نه هېرېدونکې قرباني يې ورکړې دي د يوې جونګړی د جوړولو لپاره درې بسوې زمکه او نقدې پيسې نه شي ورکولې نو د نورو هېوادو په ملامتولو به يې څه توره کړی وي او د مهاجرو کومه ستونزه به يې حل کړی وي؟
که په پرديو هېوادو کې پراته مهاجرين افغانان دي او د افغانستان له خاورې نه په هجرت کولو اړ شوي دي نو بيا دهغوی د کړاوونو د ختمولو لوی مسؤوليت هم پر افغان چارواکو دی چې په اړه يې جدي ګامونه واخلي. ددې پرځای چې لوړ پوړي چارواکي پر هره دښته او شاړه زمکه خپله ګېډه واچوي او يا هم د حکومتي چارواکو په مرسته زو سالاران لوی لوی دښتې پخپل نوم کړی، پر بې کورو او بې سرپناه مهاجرينو دې ووېشي. څکه چې دهغوی تر ټولو ستر مشکل د سر پټولو لپاره د کورونو نه لرل دي. که چېرته حکومت په يواځې ځان د مهاجرينو د سنبالولو وړتيا نه لري نو د ملګرو ملتو د مهاجرينو له اداری سره په قوي تفاهم دې دا کار پرمخ بوځي او داسې يوه صفا او شفاف سيستم دې جوړ کړي چې له بهر نه راغليو مهاجرو سره کېدونکې مرستې له څه ځنډ او ځنډ پرته ورته ورکړی شي، حکومت نور که هېڅ نه شي کولې لږ تر لږه دومره توان او واک خو ضرور لري چې د هر ولايت مهاجرينو ته پخپلو ولايتونو کې څو څو بسوې زمکی ورکړي تر څو د سرپټولو جونګړه پکې جوړ او پخپل هېواد کې هستوګن شي.
که د دولت لوړ پوړي چارواکي د خپل ولس د غم پر ځای په هېواد کې دننه او باندې د خپلو بلند منزلونو او بېنک بيلنس د زياتولو په غم کې وي نو دا خبره دی د کاني کرښه وګڼي چې بالاخر نن وي که سبا دوی به هم د حسنی مبارک، قذافي، بن علي، بشار الاسد او نورو ظالمو چارواکو په سرنوشت اخته شي، د افغانستان ولس نور ويښ شوې، د هر چا هر حرکت په ډېر غور څاري او تيزه محاسبه ورسره کوي. ښه به دا وي چې چارواکي خپل اسلامي او افغاني مسؤوليت په صحيح توګه ترسره او د خپل ځورېدلي ولس پر ټپونو د مرهم پټی ولګوي.

شهید

شهيدان رزم و بزم ها افتخار است	بتاريخ روز قربان يادگار است
به مکتب جهاد اول نوشتيد	برای دين شهادت هم شعار است
تو رفتی در سفر نزد حبيبت	يتيمان صبح و شام در انتظار است
برای ننگ و ايمان دادهء جان	ترا فردوس به نزد کردگار است
برای انتقال روح پاکت	ملائک فوج، فوج اندر قطار است
زيمن خون پاکت ای دليران	تمام دشت و دامان لاله زار است
به بوستان مردم و آرزويت	هزاران سرو آزاد روبکار است
فراموش کی شود آن ياد بودت	شهامت ها بدل نقش و نگار است
گلی سرخت به گلدان شهادت	به ميهن هر زمان چون نوبهار است
تو بر مقصود خود خندان رسيدی	زهجران جمله دوستان دغ دار است
شهيدان را مگوئيد مرده هستند	که رازق بر همه پروردگار است
خداوندا بده صبر و تحمل	برای انکه قلبش خون فشار است
بحق خون پاک جمله ياران	همه بينند که ظالم پای دار است

منم غوری که دارم درد نالان
همين ناله مرا ليل و نهار است

افغانستان د نړۍ په رسنیو کې

د کابل بانک قضیه بالاخره محکمې ته ورسیده

نیویارک ټایمز ورځپاڼې په وروستی ګڼه کې د کابل بانک قضیه بالاخره محکمې ته ورسیده، ترسرلیک لاندې یومطلب خپور کړی چې په یوه برخه کې یې لیکي، د جمهور رئیس حامد کرزي په غوښتنه د کابل بانک د بحران مسولین چې په کې د دې بانک رییس او نور افراد شامل دي، ځانګړې محکمې ته وروپیژندل شول.

د ورځپاڼې په وینا د ولسمشر کرزي حکومت په دغه اقدام سره غواړي نړیوالې ټولنې ته وښیي چې د اداري فساد په وړاندې د مبارزې په برخه کې پرخپلو ژمنو عمل کوي.

نیویارک ټایمز وړاندې لیکي، د کابل بانک چې یو د افغانستان لوی خصوصي بانک ګڼل کیده، د نهه سوه میلیون ډالرو د اختلاس رسوایي په افغانستان کې د بازار د اقتصاد د پیاوړي کیدوپرهڅو ترټولو لوی داغ بلل کیده.

د ورځپاڼې له دې لیکنې سره سم د هغو کسانو په ډله کې چې محاکمه کیږي، د کابل بانک ریس شیرخان فرنود او د هغه مرستیال خلیل الله فیروزي چې په دې بانک کې د لوی اداري فساد اصلي طراحان بلل کیږي، او د دې بانک نهه نور کارکونکي شامل دي.

نیویارک ټایمز د لویې څارنوالۍ د مرستیال رحمت اله نظري له قوله خبر ورکوي چې وایي، دغه کسان، د پیسو د غیرقانوني سپینولو، له قدرته د ناوړه استفادې، اختلاس او د اسنادو په جعلي کولو تورن دي.

د نیویارک ټایمز په وینا د کابل بانک د مسولینو د پاسه نورلاسونه هم په اداري فساد کې ښکیل دي چې د افغانستان د مرکزي بانک د پخواني رییس عبدالقدیر فطرت نوم هم د هغوی په ډله کې شامل دی.

ورځپانه د لویې څارنوالۍ د مرستیال په حواله لیکي چې ویلي یې دي، د افغانستان بانک ریس چې د کابل بانک له لانجې خبرو، ولې یې د مخنیوي لپاره هیڅ اقدام ونکړ.

امریکایي لاس انجلس ټایمز ورځپاڼې د افغانستان په اړه په یوې بلې موضوع لیکنه خپره کړې اولیکي، د افغانستان په بدخشان ولایت کې د دوبهرنیوبرمته شویو ښځو او د هغو د افغان همکارانو خوشې کیدل دوه پیغامونه رسوي.

یوداچې په دې هیواد کې امنیتي اقدامات ورځ تربلې ښه کیږي او افغان او نړیوال ځواکونه وتوانیدل چې برمته شویو ته له زیان پرته هغوی د یرغمل نیونکو له منګولو وژغوري او یرغمل نیونکيٌ یې هم ووژني.

د ورځپاڼې په وینا له بلې خوا د دغو افرادو یرغمل نیونه د دې ښکارونديي کوي چې د هغو بهرنیو کارکونکو لپاره چې په افغانستان کې په بشري چارو بوخت دي، کارکول څومره له ستونزو ډک دی او دغه کسان د افغانستان په لیرې پرتوسیمو کې افغانانو ته د مرستې په رسولو سره په حقیقت کې خپل ژوند په خطر کې اچوي

لاس انجلس ټایمز د میدایر د موسسې چې دغو میرمنو ورته کارکاوه، د یوه کارکونکي له قوله لیکي چې ویلي یې دي، دوی د خپلو کارکونکو ژوند ته د ګواښونو په اړه اندیښنه لري، خو له دې سره سره نه غواړي د افغانستان هغه خلک چې د دوی مرستو ته اړتیا لري، د مرستندویه ادارو له مرستو بې برخې شي، په دې خاطر هڅه کوي چې په دې برخه کې یو تعادل رامنځ ته کړي.

مردم پاکستان نمی خواهند ...

خانم حنا ربانی کهر در صحبت با نشریهء فارن پالیسی واضح ساخت که اکثر پاکستانی های نمی خواهند، اکمالات نیرو های ناتو از طریق آن کشور صورت گیرد؛ آن ها می گویند، این راه بروی نیرو های خارجی باید برای همیشه مسدود باشد.

کهر وزیر خارجهء پاکستان گفته است: "اگر من هم مشاور صدراعظم پاکستان بودم، من هم برای وی گپ های مردم را می گفتم."

اختلافات در مورد راه ترازیتی مواد اکمالاتی، ناتو را مجبور ساخت به کشورهای آسیای میانه مراجعه کرده، با سه کشور آن منطقه یک تفاهمنامه را در مورد ترازیت امضا کند.

براساس این قرار داد وسایل و تجهیزات نیرو های بین المللی از طریق کشورهای آسیای میانه از افغانستان خارج ساخته خواهند شد.

اندرس فاگ راسموسن سرمنشی پیمان ناتو بروز دوشنبه در بروکسل در این رابطه گفت: "ما همچنان درمورد ترانزیت خارج ساختن وسایل و تجهیزات نیرو های ما از افغانستان با سه کشور آسیای میانه، قزاقستان، قرغزستان و ازبکستان توافق کردیم. این توافق امکانات تازهء را برای ما فراهم می کند، در زمینهء ترانسپورت دست ما باز خواهد شد و ما به این مساله نیازداریم. "

ناتو قبلاً با روسیه نیز در مورد ترانزیت موافقت کرده بود و با امضای موافقتنامهء جدید با سه کشور آسیای میانه، ناتو می تواند وسایل و تجهیزات نظامی نیرو هایش را به اروپا انتقال دهد.

راه پاکستان برای ناتو ارزانتر است. ترازیت از طریق روسیه تقریباً شش بار قیمت تر تمام می شود. روی همین دلیل تصور می شود، بازهم ناتو فشارهایش را بر پاکستان بیشترافزایش دهد تا این راه ترازیتی را باز گشایی کند، اما اینک به نظر می رسد که با امضای موافقتنامهء جدید با سه کشور آسیای میانه دیگر نیاز ناتو به پاکستان پایان یافته باشد.

له افغانستانه مو د وتو ...

د راسموسن په وینا، لا د مخه یې له روسیې سره په دې اړه یو تړون لاسلیک کړی دی.

ټاکل شوې، چې د ۲۰۱۴ کال تر پایه پورې به له افغانستان څخه د ناټو سازمان زرګونه سرتېري ووځي او یواځې یوه اندازه امریکایي سرتېري د شوي تړون له مخې پاتې شي.

د ناټو سازمان عمومي سرمنشي وویل، چې د روسیې او منځني اسیا د یادو درېیو هېوادونو له لارې به ناټو وکولی شي له افغانستان څخه خپل زرګونه پوځي واسطې او وسایل ولېږدوي. د یادونې ده، چې تېر کال پر مومندو ایجنسی د امریکا په هوایي برید کې د ۲۴ پاکستاني سرتېرو له وژل کېدو وروسته دغه هېواد د ناټو سازمان لپاره د خپل هېواد له لارې د اکمالاتو لېږدولو لاره وتړله.

پاکستان د دې لارې د پرانیستلو لپاره شرط اېښی و، چې امریکا دې پر دې پېښې بښنه وغواړي او د یوه کانټېنر پر سر دې پنځه زره ډالر ټیکس ورکوي، خو ناټو او امریکا دغه دواړه شرطونه نه مني.

که څه هم ناټو اوس د منځنی اسیا له لارې له افغانستانه د وتلو او اکمالاتو لاره موندلې، خو دغه لاره دوی ته په ډېره لوړه بیه پرېوځي او د پاکستان له لارې شپږ برابره زیات لګښت پرې راځي، خو ناټو د زهرو دغه غړپ څښلو ته تیاره شوې ده.

د ناټو سرمنشي په یاده خبري غونډه کې دا هم وویل، چې دوی اوس هم هیله من دي چې پاکستان به د اکمالاتو لاره پرانیزي.

امریکا پاکستان ته د ۷۵ فیصدو ...

ډان ورځپاڼه وایي چې د پاکستان پوځ په پټه د امریکا د بې پیلوټه الوتکو د بریدونو ملاتړ کوي خو د خلکو په خاطر د بې پیلوټو الوتکو حملې د پاکستان پر حریم تېری ګڼي.

پرون هم د پاکستان د بهرنیو چارو وزارت په شمالي وزیرستان کې د امریکا د بې پیلوټو الوتکو حمله وغندله او هغه یې د پاکستان د ملي حاکمیت سرغړونه وبلله. په دې حمله کې د القاعده شبکې د یوه مهم مشر الیبي په شمول ۲۷ تنه ووژل شول.

تېره اوونی په واشنګټن کې د پاکستان سفیره شیري رحمان بریالی شوه چې د امریکا د کانګریس د قوانینو د کمېټې رییس ډیویډ درېر ته قناعت ورکړي چې هغه طرحه وځنډوي چې پاکستان ته د مالي مرستو دوام له ستونزو سره مخامخ کوي.

د شیري رحمان دا هڅه پر پاکستان، چې له اقتصادي پلوه په تنګسه کې دی، موقتاً فشار کموي خو پاکستان په کانګریس کې له یوه بل تعدیل یا طرحې سره هم مخامخ دی. د کانګریس غړی رانډ پال، چې دا نوی تعدیل یې وړاندې کړی، هڅه کوي چې پر پاکستان تر هغو پورې د امریکا د ټولو مرستو بندیز ولګول شي چې پاکستان شکیل اپریدی خوشې کړی نه وي. شکیل اپریدي د اسامه بن لادن د ځای په تثبیتولو کې مرسته کړې وه.

منزلت دولت در اسلام

نویسنده: دوکتور عبدالکریم زیدان

بعضی مردم چنان می پندارند که دین اسلام تنها یک دعوت دینی محض بوده و همه اهتمام و توجهش را در ساحه اخلاقیات و تنظیم رابطه انسان به پروردگارش منحصر می سازد. و به امور دنیوی و زندگی مردم و از آن جمله امور دولتی، سیاست و حکومت داری و ... کدام رابطه نمی گیرد و در آن باره کدام دساتیر و تعالیم را ارائه نمی دارد. این مفکوره ایست غلط نادرست که از نگاه خود شریعت مردود و نامقبول است، و اسلام آنرا هیچگاهی پذیرفته نمی تواند؛ طوریکه در فقرات آینده این موضوع بکلی واضح خواهد شد.

اسلام به تشکیل دولت امر میکند:

از جمله خصوصیت های بارز اسلام این است که تمام نواحی و جوانب زندگی را شامل بوده و هیچ ناحیه از نواحی آنرا مهمل و بدون بیان و حکم نگذاشته است یعنی در هر ناحیه آن حکمی دارد و به آن توجه و اهتمام کرده و کوچکترین جانب زندگی را هم از نظر نه انداخته است. بنابر این در نصوص آن احکام عبادات، اخلاقیات، عقاید و معاملات به آن معنا و مدلول وسیع و گسترده که شامل تنظیم روابط افراد در بین شان اعم از افراد و جماعات باشد با تمام صراحت و وضاحت دیده می شود.

خداوند جل جلاله می فرماید: ((ما فرطنا فی الکتاب من شیء))

یعنی ما در قرآن کریم در بیان کردن هیچ چیزی (چیزی که در امور دینی و دنیوی ضروری باشد) تقصیر و کوتاهی ننمودیم، و چیزهای ضروری طور مجمل یا واضح بیان کرده شده است.

در صورتیکه دین اسلام چنینٌ دین عام، جامع و شامل و دربر گیرنده همه احکام ضروری بوده باشد پس بدیهی و واضح است که در آن احکام و قواعد و اصول مربوط به دولت و نظام حکومتی حتماً وجود دارد و ما آنرا هم به وضاحت می بینیم. مانند مبدأ شوری، مسؤولیت حکام، وجوب اطاعت ایشان در امور موافق به شریعت، احکام جنگ و صلح، معاهدات، قراردادها وغیره احکام مربوط به دولت.

و در سنت پاک نبوی می بینیم که الفاظ و کلماتی چون امیر، امام و سلطان بسیار تکرار میشود که مقصد از این الفاظ هم کسی است که سلطه، قدرت و حکم در دست اوست که از آن به حکومت تعبیر می گردد و حکومت عنصر مهم و با ارزش دولت است. و این نصوص و احکام و دساتیر دینی باید تطبیق گردد، زیرا مقصد از نزول وحی، اوامر و نواهی خداوندی این نیست که خوانده و قرائت شود، سپس ترک گردد و در ناحیه عمل از آن استفاده نگردد، بلکه مرام از آن، این است که قرائت شود و محل تطبیق قرار گیرد، و تطبیق و اجرای آن خواهان دولتی است که بر اساس مبادی و مفاهیم آن تشکیل شود و سپس همه احکام را در منصه تطبیق و اجراء بگذارد.

احکامی که در تطبیق آن به تشکیل دولت ضرورت است:

در اسلام احکامی وجود دارد مانند تطبیق عقوبات، وجوب و لزوم حکم قرار اوامر خداوندی، جهاد فی سبیل الله وغیره... که آنها باید از طرف دولت که بر افراد سلطه و قدرت دارد تطبیق و تعمیل گردد و افراد نمی توانند و اجازه هم ندارند که خود شان آن احکام را تطبیق نمایند.

علامه ابن تیمیه در این باره چنین می گوید: ولایت در امور مردم از بزرگترین واجبات دینی است بلکه دین بدون آن استوار بوده نمی تواند و خداوند امر به معروف و نهی از منکر و کمک و رسیدن به مظلوم را واجب گردانیده است. و همچنان دیگر واجبات از قبیل جهاد، عدالت، تطبیق حدود که بدون قوت، قدرت و امارت تطبیق شده نمی تواند.

پس برای تنفیذ و تطبیق احکام شرعی تشکیل دولت اسلامی یک امر ضروری و واجبی است.

دغه رنګ مو تاسې غوره امت ګرځولي یاست چې پر خلکو ګواهان اوسئ

شهادت

د حزب اسلامي افغانستان نشراتي ارګان

خپرونکی اداره د حزب اسلامي افغانستان فرهنګي څانګه
د امتیاز خاوند حزب اسلامي افغانستان
مسوول مدیر عبدالله "کامه وال"
مرستیال مدیر عبدالخلیل (محمد خلیل)

د اړیکو شمېرې
دفتر ۰۲۰۲۵۲۱۲۳۲
مسؤول مدیر ۰۷۷۷۲۰۲۲۰۱
مرستیال مدیر ۰۷۷۲۲۷۵۷۸۳

• د شهادت اونیزه د هر لیکوال او د نظر خاوند د لیکنو هرکلی کوي.
• د شهادت اونیزه حق لري چې د لیکوال لیکنه د ضرورت په وخت داسې اصلاح کړي چې د لیکنې اصل روح ته تاوان ونه رسي.
• رالیږل شوي مطالب نه مسترديږي - یوازې سرلیکنه د شهادت د اونیزې رسمي نظر دی.

دیزاین: خواجه وحیدالله | آدرس: دحزب اسلامي افغانستان مرکزي دفتر سیلو ته مخامخ خوشحال خان مېنه، کابل - افغانستان | Email Add: shahadatnews_kabul@yahoo.com